UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

## یوناما د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پریکړې څخه د رایی اچووني د مرکزونو د نهایی لست په اړه ملاتړ کوی

د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر ۵ نېټه: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا نن ورځ د دې پریکنده پریکړې د بیا تایید چې هغه به د سپتمبر د ۱۸ نېټې د ولسي جرګې ټاکنې د رایو د مرکزونو د وروستنی لست سره سمې ترسره کوي چې د دې کال د اګست په ۱۸ نېټه نشر شوی دی، بشپړ ملاتړ کوي.

د رایو د مرکزونو د دغه وروستنی نشر شوی لست سره سم د ټاکنو سرته رسول د ټاکنو د اغیزمنې سرته رسوني او شفافیت لپاره ضروري او لازمي دي.

د ټاکنو د مرکزونو د وروستني لست پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون په عملیاتي او لوژستیکي تیاریو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. د ټاکنو لپاره مواد، چې په کې حساس مواد لکه د رایو اچوني پاڼې او په مصونه توګه بسته بندي شامل دی او د لست له مخې ولایتونو ته لیږدول شوي دي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو لپاره کارمندان استخدام کړي او روزلي دي څو د رایې اچووني په دغو مرکزونو کې کار وکړي. د دغه لړلیک سره سم خپلواکو مشاهدانو او څارونکو خپل پلانونه جوړ کړي دي.

د رایې اچولو د حساسو موادو امنیت، د رایو ورکولو د اسنادو په شمول د دې لست په ساتلو پورې اړه لري څو د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون وکولای شي هر وخت د ټولو موادو فهرست وساتي. دا د ۲۰۰۹ کال د ټولو ټاکنو په پرتله د درغلیو د کنترول د میکانیزمونو په هکله یو د پام وړ بنه والی دی.

موږ د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون او افغان امنیتي ځواکونو د هلو ځلو څخه کوم چې غواړي تر ممکنه حده د رایې ورکولو خوندي مرکزونه جوړ کړي، څو رایې ورکوونکي په ډاډ سره خپلې رایې واچوي، خبر یو. که څه هم چې په ځینو موقعیتونو کې د رایې ورکولو د مرکزونو پرانیستل یوه ستونزمنه پریکړه ده، موږ د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پریکړې سره چې موخه یې د رایې ورکوونکو، انتخاباتي کارکوونکو او د رایې ورکولو د مرکزونو د موثره امنیت او ساتلو، د رایې د طرز العملونو او د رایې اچولو د حساسو موادو په شمول د امنیت/خوندیتوب ساتل دي، موافق یوو.

د ولسي جرګې لپاره د سپتمبر د میاشتي د ۱۸ نېټې ټول ټاکنې په افغانستان کې د دیموکراتیکو موسساتو د پیاوړي کولو لپاره او همدارنګه د افغانستان د خلکو لپاره او د هغوي د ډیموکراتیکو حقونو د برخمن کیدو لپاره یو مهم ګام دی.